انجنیر سلطان جان کلیوال ۲۰۱۸/۰۱/۰۱

# ډکټر عبدالله عبدالله ته یوه لنډه مشوره

جناب ډاکټر صاحب عبدالله !

تاسو چې اوس د ملی یووالی د حکومت په چوکاټ کی د اجرائیه رئیس (صدراعظم) په توګه وظیفه، مسؤولیت او صلاحیت لری، تاسو چې همدا اوس د ډاکټر اشرف غنی سره د یوه ځاګړی قرارداد په اساس (د اساسی قانون نه بهر) د هیواد په ټلو چارو کی (۵۰٪) برخه لری، تاسو چې لا تر اوسه د اصلاحاتو او همګرایی د ټیم د مخکښ شخص په توګه، ددی ټیم د ټولو ګډونکونکو سیاسی ډلو د دریځ له آدرس څخه د نظر ورکولو او عمل کولو حق لری او تاسو چې په مشخصه توګه لا تر اوسه هم د جمعیت د تنظیم د مشرتا به د ډلی تر ټولو پخوانی غړي یاست، په روانو ډیرو نا خوښو حالاتو کی د افغان ولس مطلق اکثریت له تاسو نه دا پوښتنی لری:

- ۱- له هغه وخته چې د جمعیت د ډلی د مشرتا به یو بل غړی عطا محمد نور د څوارلسو کلونو وروسته د بلخ د ولایت له مقام څخه د خپلی استعفی تر وړاندی کولو وروسته ګوښه شوی تر اوسه پوری یی په لسګونو تلویزیونی جرګو او مرکو کی تاسو ته د ډیرو نامناسبو الفاظو په استعمال سره، حتی تر د غاښونو د ایستلو پوری ناسزا ویلی او ګواښ یی درته کړیدی. آیا تاسو د نوموړی څخه د ډار له کبله هغه ته یو غوڅ ځواب نشی ورکولی او که کوم بل ملحوظ شته چې تاسو یی چوپ کړی یاست؟
- ۲- جناب ډاکټر صاحب! آیا ستاسو د جمعیت د ګوند په اساسنامه کی د ګوند د دارالانشاء رئیس چې بناغلی عطا نور دی، ددی صلاحیت لری چې په یواځی توګه د ګوند د مشرتا به له ډلی څخه یو بل تن چې تاسو یاست، د ګوند نه وشړی؟
- ۳- او وروستی پوښتنه داده چې ایا تاسو په راتلونکی کی غواړی چې د یوه ملی شخصیت په توګه تبارز وکړی او که یواځی د جمعیت د ډلی د زور ازمایلو او ګروپی ګټو په حدودو کی پاتی کیدل غواړی؟

تر دی دری پوښتنو وروسته که تاسو جناب غوښتی وی چې د افغانستان په راتلونکی تاریخ کی د یوه داسی شخص په توګه یاد شی چې د هیواد ملی ګټی ورته د هر ډول ګروپی، سمتی او قومی ګټو څخه لوړی بریښی او په دی حساسو تاریخی شیبو کی د هیواد د ټولو اقوامو د وحدت او یو والی د تأمین په منظور د هیڅ زور واکی او جنګسالار د تأثیر لاندی نه یاستی نو د مشوری په توګه په دی ټکو غور وکړی او که مو دا مشوره هم د ځان او هم د وطن په ګټه و بلله عملی اقدام وکړی:

- ۱ـ کوشش وکړی چی د ټولو ممکنه لارو چارو نه په ګټی اخستنی سره ښاغلی عطا محمد نور او ورسره یو څو تنه نور بی تجربی، نیمه با سواده، په راز راز ناروغیو اخته، ناپوهه او احساساتی کسان په دی و پوهوی چی د افغانانو یو والی اوس د هغو ډیرو سختو پړاونو نه را تیر شوی او هیڅ داسی یو قوت به پیدا نشی چی دا د یوه کور مالکان افغانان سره په وړو کورونو و ویشی او بیا پری حکمرانی وکړی.
- ۲ ـ زیار و باسی چی د خپلی ډلی مشران دی ته را وبولئ چی په آرامو اعصابو او سړو وینو هم د ځان هم د خپلی ډلی او تر ټولو نه زیات د خپلو مظلومو خلکو او خپل وطن د سلامتیا په هکله فکر وکړی او پری نږدی چی د وطن دښمنانو ته تر دی زیاته د بربادی او تخریب زمینه برابره شی.
- ۳ ـ تردی ټولو انسانی هلو ځلو نه وروسته که بیا هم د یاغیانو او باغیانو دا سرکښه ډله آرامه نه شوه، د ملت د سلامت سؤال ورته بی ارزښته ور معلوم شو او خپل لیونی ارمانونه او هیلی ورته له ټولو ملی ارزښتونه اوچته وبریښیدلی نو بیا جناب ډاکټر صاحب!

د یوه مشر، دیو پوه، د یوه غیرتمن، د یوه متعهد، د وطن د یوه ریښتونی خدمتګار او د یوه بارسالته زړور انسان په توګه میدان ته راووځه او په ټیټ آواز داسی مه وایه چی «ما باید منبعد دندان های خود را هم حفاظت کنم که کسی نشکناند»، بیا نو په لوړ آواز داسی ووایه چی:

هر څوک چی د ملی حاکمیت، ملی یوالی او د افغانستان د واحد ملت د ضعف، ناتواني او بربادی په لاره کی ګام پورته کوی، هر څوک چی وی او په هر چا پوری چی تړلی وی، که یو وی، که سل وی او که زر وی د همدی واحد ملت په زور به یی پښی ور ماتی کړم، سترګی به تری و باسم او داسی جزا به ورکړم چی د پیړیو پیړیو پوری بیا څوک د هیواد او د وطن د خلکو تر منځ د بیلوالی راوستلو ته زړه ښه نکړی او په دی توګه دا زیار ونه باسی چی په داسی اعمالو سره خپل جنایتونه د خلکو له ذهنونو څخه و کاږی.

که چیری داسی یو زړور عمل تر سره کړی نو په دی و پوهیږی چی راتلونکی نسلونه به در باند و ویاړی او په تاریخ کی به د لوړ نوم خاوندان شی او که داسی و نشی نو بیا پوهیږی چی تاریخ د چا لحاظ نکوی. د ملی یوالی په لاره کی ستاسو د بری په هیله. پای

دیسمبر/ ۲۰۱۷/۳۰
تورنتو ـ کانادا